

اونیزه مجله:351
WEEKLY BOOKLET:351

د امیرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د کتاب "د نیکئ دعوت" یو قسط

# دوزخ څنګه ځائے دے؟

PASTHO


د دُنیا مَحَبّت د ټولو ګناهونو جرړه ده 02
د کور خلق د عذاب نه څنګه بچ کړي؟ 07
د جَهَنّم لړزوونکي قِصّه د جِبرئیل د خُلې نه 09
د پینسل د غلا نه د پانسئ د زندئ پورې 18



شیخِ طریقت امیرِ اهلِ سنت د دعوتِ اسلامی بنسټګر حضرت علامه مولانا ابو بلال
محمد الیاس عطار قادری رضوی دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

# دوزخ ښنګه ځائے دے؟

دُعائے عطار: یاربَّ المُصطفٰے! څوک چې دا رساله "دوزخ ښنګه ځائے دے؟" ولولي یا واوري هغه د دوزخ د وور نه وساتې او سره د مور او پلار یې جنّتُ الفردوس ته بے حسابه بوځې. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

**د اللّٰه پاک د آخري نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د قیامت په ورځ به د اللّٰه پاک د عرش نه سِوا بل یو سورے نه وي، دري کسان به د عَرشِ اِلٰهي په سوري کښې وي. عرض اوکړے شو: یارَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! هٰغه خلق به څوک وي؟ اِرشاد ئې اُوفرمائیلو: ﴿1﴾ هٰغه کس څوک چې زما د اُمَّتي پریشاني لرې کړي ﴿2﴾ زما سُنَّت ژوندے کوونکے ﴿3﴾ په ما باندې کثرت سره دُرُود شریف لوستونکے.
(اَلبُدُورُ السَّافِرَۃ ص 131 حدیث 366)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## آیا فیشن پرست عِزّت مند دي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د فِکر وړ خبره ده چې! آیا نن دُنیا "ډیر غټ خیز" نه ګڼلے شي؟ آیا نن صبا د مسلمانانو د ګڼ شمیر د زړونو نه د اسلام حقیقي رُعب او دبدبه نه ده وتلې؟ آیا د نیکۍ دعوت ورکول او د بدۍ نه منع کول نه دي پریښودے شوي؟ آیا په خپل مینځ کښې د کنزلو او ردو بدو سلسله ډیره عامه نه ده؟ په کروړونو افسوس! نن د ګڼ شمیر مسلمانانو د ژوند د انداز نه هم دا ظاهریږي چې دُنیا ته د آخِرت په مقابله کښې ډیر اَهَمِیَّت ورکولے کیږي، د شریعت او سُنَّت

نه مَعَاذَالله خلق ورځ په ورځ لري وَځي، د سُنّتو نه لري والے او په فِرنګي فيشن پسې ليوني کيدل به آخِر دا معاشره کوم طرف ته بوځي!

## د دُنيا مَحَبّت د ټولو ګناهونو جرړه ده

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! په هوش کښې راشئ او د مرګ نه مخکښې خپله اِصلاح اوکړئ! يقين اوکړئ! دا ټوله تباهي د دُنيا مَحَبّت راوستې ده، د دُنيا د مَحَبَّت په وجه نن خلق د سُنّتو نه ډير لرې وَتي دي، **سركارِ مدِينه** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: حُبُّ الدُّنْيَا رَأْسُ كُلِّ خَطِيْئَةٍ يعني د دُنيا مَحَبَّت د ټولو ګُناهونو جرړه ده. (كتابُ ذم الدنيا مع موسوعة الامام ابن ابى الدُنيا ج5 ص22 حديث9) په كروړونو افسوس! نن مونږه د جَنَّت د نه ختميدونكو نعمتونو د حاصلولو د پاره د يو څو ورځو د پاره د كور د معمولي شان سهولتونو پريښودلو ته تيار نه يو چې لاړ شو او د سُنّتو د تربِيّت د پاره د **الله** پاک په لار كښې سفر اوكړو خو بل طرف ته د فاني دُنيا د عارضي دولت ګټلو د پاره د خپل كور والؤ نه د كلونو د پاره جُدا كيدو او په زرګاؤ مِيلونه لرې تلَلو ته فوراً تياريږو. آيا د مسلمانانو په دِيني اِعتِبار سره تباهي او د غير مُسلمو په دوئي باندې غالِب كيدل، د جُماتونو شړيدل، د سينماګانو او د عيش و عِشرت د اډو آباديدل، د فرنګي رسم و رواج عام كيدل، د مغرِبي فيشن عام كيدل، د فِلمونو ډرامو كتلو د پاره كور په كور تي وي او كيبل سستم او انټرنيټ، هر طرف ته د ګناهونو عام كيدل او د مسلمانانو د يو ډير ګڼ شمير بد كردار، آيا دا هر څه مونږ ته په چغو چغو د فِكر كولو دا دعوت نه راكوي؟ چې ''**مونږ ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح د كوشش كولو د پاره د مَدَني قافِلو ضرور او ضرور مسافر جوړيدل پكار دي.**'' نن مونږ ته په ژوند كښې په يو مخ دولس مياشتې او په هرو دولسو مياشتو كښې په د يوې مياشتې او ټول عُمر هره مياشت د درې ورځو د پاره د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافِلو كښې د **عاشِقانِ رسُول** سره د سُنّتو ډک سفر كول ډير ګران معلوميږي. سوچ خو اوكړئ كه په مونږه كښې هر يو په خپلو مجبوريانو كښې نښتے پاتې شي نو آخِر څوک به په مَدَني قافِلو كښې

سفر کوی؟ څوک به د ټولې دُنيا خلقو ته **د نيکئ دعوت** رَسَوي؟ د تاجدارِ مدينه صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم د خوږ خوږ اُمّت سره به څوک ښيګړه کوي؟ څوک به د اغيارو په فيشن باندې فخر کوونکو نادانو مسلمانانو ته په سُنّتو د عمل کولو دعوت ورکوي؟ څوک به دوئي ته د دې مَدَني مقصد د خپلولو ترغيب ورکوي چې "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي**. اِنْ شَآءَاللّٰہ الکریم." اے **کاش** چې! هر يو اسلامي وررور دا نِيَّت اوکړي چې زه به په ژوند کښې په يو مخ دولس مياشتې او په هرو دولسو مياشتو کښې د يوې مياشتې او ټول عُمر په هره مياشت کښې د درې ورځو د پاره د **عاشِقانِ رسُول** سره د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافِلو کښې د سُنَّتو ډک سفر کووم اِنْ شَآءَاللّٰہ الکریم. د **مَدَني قافلے** په بَرَکتونو باندې د ځان پوهه کولو د پاره يو **مَدَني سپرلے** اُوګورئ، چنانچه،

## بدترين، عزيز ترين څنګه جوړشو؟

د **لاسي ګوټهـ** (کراچئ) اوسيدونکي يو اسلامي وررور څه داسې بيان دے چې: زه ډير زيات وران کارے اِنسان ووم، د فِلمونو او ډرامو شوقين کيدو سره سره د لوفرانو هلکانو سره دوستانے او د نيمې نيمې شپې پورې د هغوئي سره بے فائدې ګرځيدل زما په معمولاتو کښې شامِل وو. زما د غلطو حرکتونو په وجه زما د ټول خاندان کسان بلکه زما خپل مور او پلار به هم زما نه ډېر کوله، هيچا به هُم خپل کور ته زما ورتلَل نه خوښول او نورو ته به ئې هم زما د صُحبت نه د بچ کيدو نصيحت کولو. معامله دې حد ته رسيدلې وه چې زما والِد صاحِب د کور نه زما شړلو ته تيار شوے وو. زما د ګناهونو نه ډک خزان وهلے مانښام د سحر په سپرلي کښې د بدليدو څه داسې وسِيله جوړه شوه چې يو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي په ډيره زياته نرمئ او مهربانئ په ما **اِنفرادي کوشش** اوکړو او ما ته ئې د پاکستان په مشهور ښار کوئِټه کښې په صوبائي سطح باندې کيدونکي د دوه ورځو **د سُنَّتو ډکه اِجتِماع**

کښې د شرکت کولو دعوت راکړو. ما معامله د والِد صاحِب اجازت ته وسپارله. د نیکئ د دعوت د جذبې نه ډک هغه اسلامي ورور زما په دې فیصله ډیر خوشحاله شو ځکه چې والِد صاحِب خو مې د مخکښې نه د دعوتِ اسلامي دِیني ماحول سره ډیره مِینه لرله. چې کله هغه مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي موقع اُوموندله نو زما په والِد صاحِب ئې اِنفِرادي کوشش اوکړو او زما د پاره ئې ترینه په اِجتِماع کښې د شِرکت کولو اِجازت اُوغوښتو. والِد صاحِب دا زما د اِصلاح ذریعه وګڼله او سره د خرچ ادا کولو ئې ما ته په خوشحالئ په اِجتِماع کښې د شِرکت کولو اِجازت راکړو. په مُقرّره تارِیخ د **عاشِقانِ رسُول** سره په اِجتِماع کښې د شِرکت کولو سعادت رانصیب شو. په اِجتِماع کښې کیدونکو د سُنَّتو ډکو بیانونو، ذِکرُ الله او رِقَّت انګیزې دُعا زما په زړه ډیر اثر اوکړو. بیا چې په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو دعوت راکړے شو نو زه سمدستي د عاشِقانِ رسُول سره د دعوتِ اِسلامي د مَدَني قافلے مسافر جوړ شوم. اَلْحَمْدُلِلّٰه په مَدَني قافِله کښې د **عاشِقانِ رسُول** صحبتونو او مهربانئ زما په شان د ګنهګار او وران کاري اِنسان په زړه کښې مَدَني اِنقِلاب راپورته کړو. د ګناهونو نه توبه کول رانصیب شوه او په زړه کښې مې د سُنّتو مطابق د مَدَني لِباس جذبه پیدا شوه، د مور او پلار د حقونو نه ادا کولو [د احساس پیدا کیدو] په وجه مې د هغوئي نه د معافئ غوښتلو ذِهن جوړ شو، په مخ مې د سُنَّتِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یعني د ږیرې مبارکې پریښودَلو او د عِمامې شریفې تاج په سر کولو نِیَّت جوړ شو. د **مَدَني قافلے** نه چې څنګه بیرته کور ته راغلم نو والِد صاحِب ته په ښپو پریوتم او په ژړا ژړا مې ترینه معافي اُوغوښتله. او دغسې زما په شان ګنهګار او بے فائدې کس د سُنّتو په خِدمت کښې مشغول شو. کومو خپلو خپلوانو به چې مخکښې زما نه ډیره کوله نن هغوئي ما له غیره راکوي. مخکښې زه په خپل خاندان کښې "بدترین" ووم، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي دِیني ماحول په بَرَکت نن زه د هغوئي په

نِزد "عزيز ترين" جوړ شوے يم.

جب تک بِکے نہ تھے کوئی پوچھتا نہ تھا　　　تم نے خرید کر مجھے انمول کر دیا!

تر څو چې نه ووم خرڅ، چا مې تپوس هُم نه کولو
چې تر کله يم تا اغستے بے بها شوم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د کور کسانو ته د نيکئ د دعوت ورکولو تاکيد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده چې! د عاشِقِ رسُول د اِنفرادي کوشش په بَرَکت د معاشرے د ناسُور په شان "بد ترين" انسان د ټولو د سترګو تور او "عزيز ترين" مسلمان جوړ شو. مونږ ټول که هر يو ته د نمانځه نصيحت کوو، د سُنَّتو ډکي اجتِماع [کښې د شرکت کولو] دعوت ورکوو او په مَدَني قافِلو کښې د سفر کولو ترغِيب ورکوو نو ډير زر به په معاشره کښې مَدَني اِنقِلاب راپورته شي! خاص طور د خپل کور کسانو ته هم د نيکئ دعوت ورکول او هغوئي د ګناهونو نه بچ کول پکار دي. چنانچه د حضرتِ سَيِّدُنا زَيد بِن اسلم رضی اللہ عنہ نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى الله عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د دې آيتِ مبارکه تلاوت اُوفرمائيلو:

قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا

(پ28، التحريم: 6)

مفهوم ترجمهٔ کنزُ الاِيمان: خپل ځانونه او د خپل کور کسان د هُغه وور نه بچ کړئ.

صحابۂ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوان عرض اوکړو: يا رسُولَ الله صَلَّى الله عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم مونږ د خپل کور کسان څنګه د وور نه بچ کړو؟ **حُضُورِ انور** صَلَّى الله عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: هغوئي ته د هُغه کارونو حُکم ورکړئ کوم کارونه چې د **الله** پاک خوښ دي او د هُغه کارونو نه ئې منع کړئ کوم چې **الله** پاک ته ناخوښه دي. (تفسِير دُرِّمنثور، ج8 ص225)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د خوفِ خُدا اِیمان تازه کوونکې واقعه

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** په بیان شوي حدیثِ پاک کښې چې زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سیپاره 28 سُوْرَةُ التَّحْرِيْم د آیت 6 د کومې حصّې تِلاوت فرمائیلے دے د هغې د تفسِیر نه مخکښې یو اِیمان تازه کوونکې **واقعه** واورئ چنانچه د مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه چاپ شوي د 1012 صفحو کتاب "**جہنّم میں لے جانے والے اعمال**" جِلد 2 صفحه 881 کښې دي چې حضرتِ سَیِّدُنا اِبنِ عَبّاس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائي چې کله **الله** پاک په خوږ مکی مَدَنی آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا آیتِ مبارکه نازِل کړو:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّ قُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ (پ28، التحريم: 6)

مفهوم ترجمهٔ کنزُ الإیمان: اے ایمان والؤ! خپل ځانونه او د خپل کور کسان د هغه وور نه بچ کړئ چې د هغې خشاک انسانان او کاڼي دي.

نو شَهَنشاهِ مَدِینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلو صحابهٔ کرامو رَضِىَ اللهُ عَنْهُم په مخکښې د دې تِلاوت اُوفرمائیلو نو یو ځلمے بیهوشه شو او راپریوتو. حُضُورِ اقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه په زړه باندې خپل لاس مُبارک کیښودو نو هغې حَرَکت کولو. حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اُوفرمائیلو: "اے ځلمیه! لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ اووایه." هغه [کلِمه] اُووئیله نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه ته د جَنَّت بِشارت (یعني زیرے) ورکړو، صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: یا رسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آیا زمونږ د مینځه نه؟ (یعني په مونږه کښې چې د بل یو داسې حالت شي نو؟) خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اُوفرمائیلو: آیا تاسو د **الله** پاک دا فرمان نه دے اوریدلے:



www.dawateislami.net

ذٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِیْ وَ خَافَ وَعِیْدِ ﴿۱۴﴾

مفهوم ترجمۂ کنزُ الاِیمان: دا د هغه د پاره دے څوک چې اُوېرېږي زما په بارګاه کښې د اُودرېدو نه، او اُوېرېږي د هغې نه کوم د عذاب حُکم چې ما اورَوَلے دے.

(پ: 13، ابراهيم: 14)

(اَلْمُستَدرَک لِلْحاکم ج3 ص93 حدیث 3390 ، اَلزَّواجِر ج2 ص471)

## دَ عذاب نه ئې ښنګه بچ کړي؟

صدرُ الافاضِل حضرتِ علّامه مولانا سَیِّد محمَّد نَعیمُ الدِّین مُراد آبادي رحمۃُ اللہِ علیہ په خزائنُ العِرفان کښې د دې آیتِ مبارکه یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِیْكُمْ نَارًا نه لاندې فرمائي: "د الله پاک او د هغه د رسُول صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم په فرمانبردارئ اختیارَوَلو، په عِبادت کولو، د ګناهونو نه په بچ کیدو او د کور کسانو ته د نیکئ په هِدایت او د بدئ نه په منع کولو او هغوئي ته په عِلم و ادب ښودلو." (اے اِیمان والؤ! خپل ځانونه او د خپل کور کسان د هغه وور نه بچ کړئ)

## د کور کسانو ته د نیکئ خبرې وښایه

حضرتِ مولائے کائِنات، عَلِیُّ الْمُرتَضٰی شیرِ خُدا رضی اللہ عنہ د بیان شوي آیتِ کریمه لاندې فرمائي: ځپله هم د نیکئ خبرې زده کړه او د خپل کور کسانو ته هم د نیکئ خبرې او ادب زده کړه. (جَمعُ الجَوامِع لِلسُّیُوطی ج13 ص244 حدیث 6776)

## د بالِغ اولاد د اِصلاح مُتَعَلِّق د اعلٰی حضرت فتویٰ

د فتاوٰی رَضَوِیّه جِلد 42 صفحه 370 نه مې یوه معلوماتي فتویٰ د وړاندې کولو کوشش کړے دے، اوئې ګورئ:

سُوال: بالِغ اولاد ته د نیکئ دعوت ورکول او د بدو نه منع کول په مور او پلار باندې فرض دي که واجِب؟

الجواب: د کوم يو فِعل (يعني کار) چې څه شرعي حيثيت دے د مور او پلار د پاره شرعاً هُم هغسې حُکم دے يعني په فرض باندې فرض، په واجِب باندې واجِب، په سُنّت باندې سُنّت، په مُستحَب باندې مُستحب، خو په شرط د قُدرت، په قدر د قُدرت، د فائدې په اُمِّيد (يعني چې څومره قُدرت لري د هغې مطابِق دې د اِصلاح خبره کوي هله چې د فائدې اُمِّيد لري) ګنې (حُکمِ قرآني واضِحه دے چې)

عَلَيۡكُمۡ اَنۡفُسَكُمۡ ۚ لَا يَضُرُّكُمۡ مَّنۡ ضَلَّ اِذَا اهۡتَدَيۡتُمۡ ؕ

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان : تاسو خپل فِکر کوئ، ستاسو هيڅ نُقصان نه شي کولے هغوئي څوک چې بے لارې شو، چې کله تاسو په هِدايت ئې.

(پ: 7. المائدہ: 105)

(فتاوٰی رضويه ج24 ص370)

## د دوزخ تعارُف

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! مونږه ته د خپل ځان او د کور د کسانو په اِصلاح باندې خصوصي توجُّه ساتل پکار دي او هغوئي او خپل ځان د دوزخ د تورو تيارو او خوفناک وور نه د ساتلو پوخ کوشش جاري ساتل پکار دي. قسم په خُدائے چې! د دوزخ وور بيحده سخت دے، هغه به څوک په هيڅ صورت برداشت نه کړے شي. په فرض نمونځ، زکوٰة او حج کښې سستي کوونکو، مور او پلار خفه کوونکو، د خپل اولاد د شريعت او د سُنّت مطابِق تربِيَّت نه کولو والؤ، خپل ځامن د ګيرې پريښودو نه منع کولو والؤ او ښځې هم ګِيره خَرَونکو، کِيره د يو مُوټې نه کمولو والؤ، په مال کښې ګډه [يعني مِلاوټ] کوونکو او په دوکه خرڅولو والؤ، په سودا خرڅولو کښې دوکه ورکوونکو، غلو، ډاکوانو، جيب وهونکو، په ټي وي، او اِنټرنيټ باندې فلمونه ډرامے کتلو والؤ، د سندرو او سازونو اوريدونکو، د خپل کور کسانو ته د دې سهولت ورکوونکو، په خپلو کورونو باندې د فِلمونو کتلو د پاره ډِش انټينا لګولو والؤ، خلقو ته د فِلمونو لِيډ يا کيبل ورکوونکو! او په قِسما

قِسم ګناهونو کښې د اخته خلقو د پاره د فِکر مقام دے. يقين اوکړئ چې په تِيارو کښې ډُوب د دوزخ تور تور وور به څوک برداشت نه کړے شي، په **تِرمِذي** شريف کښې د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُريره رضی اللہ عنہ نه رِوايت دے چې د سرکارِ **مَدِينهٔ منوّره** صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم فرمانِ عِبرَت نِشان دے: د دوزخ وور زر کاله بل کړے شو تر دې چې **سُور** شو، بيا زر کاله لـمبه کړے شو تر دې چې **سپين** شو، بيا زر کاله تود کړے شو تر دې چې **تور** شو پس اوس هغه ډير زيات **تور** دے. (سُنن تِرمِذی ج4 ص266 حديث 2600)

# د دوزخ لړزوونکې قِصّه د جِبرئيل د خُلې نه

قسم په **خُدائے** چې! د دوزخ وور به هيڅ څوک هم برداشت نه کړے شي. حضرتِ سَيِّدُنا اِمام حافظ ابو اَلقاسِم سُليمان طَبَراني رحمۃ اللہ علیہ نقل کوي چې: يو ځل د **سرکارِ نامدار**، مَدَنـي تاجدار صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم په دربار کښې **حضرتِ جِبرئيل** علیہ السلام حاضِر شو او عرض ئې اوکړو: ياَرسُولَ الله صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم په هٰغه ذات مې دې قَسم وي! چا چې تاسو صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم نبيءِ برحق راليږلي ئې، که دوزخ د ستنې د ستوڼي [يعني د ستنې د سُوري] همره برسيره کړے شي نو ټولې زمکې والا به د هغې د ګرمئ نه هلاک شي، که **د دوزخ والؤ يوه کپړه** د زمکې او د آسمان په مينځ کښې رازوړنده کړے شي نو ټول د زمکې والا به د مرګ کندې ته کوز شي [يعني مړه به شي]. آقا صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم! په هٰغه ذات مې دې قَسَم وي! چا چې تاسو د حق سره مبعوث کړي ئې که په دوزخ باندې مُقرّرو فرښتو کښې يوه **فرښته** د دُنيا والؤ مخې ته راښکاره شي نو د هغې د هيبته به د زمکې والا ټول مړه شي. آقا صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم! په هٰغه لوئې ذات مې دې قَسَم وي! چا چې تاسو رسُولِ برحق راليږلي ئې، د دوزخ د **زنځيرونو** يوه کړئ چې د هغې ذِکر په قُرآنِ کريم کښې فرمائيلے شوے دے که هغه د دُنيا په غرونو باندې کيښودے شي نو هغه به ريزه ريزه شي او **تَحْتَ الثَّرىٰ** ته (يعني د

اوومې زمکې نه لاندې) به ورسي. سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: اے جِبرئيل (عَلَيْهِ السَّلَام) بس کړه هُم دومره تذکره کافي ده چرې داسې اُونشي چې زما زړه وچوِي او زه وفات شم. خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوليدو چې **سَيِّدُنا جِبرئيل** عَلَيْهِ السَّلَام ژاړي، اوئې فرمائيل: **اے جِبرئيل** (عَلَيْهِ السَّلَام) **تاسو ولې ژاړئ؟** تاسو ته خو په بارګاهِ خُداوندي کښې يو خاص مقام حاصِل دے. عرض ئې اوکړو: **يا رَسُولَ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زه ولې اُونه ژاړم، چرې داسې نه وي چې په عِلمِ اِلٰهي کښې د موجوده حال په ځائے زما څه بل حال وي، چرې د **اِبلِيس** په شان زه هم په اِمتِحان کښې وانه چولے شم، چرې د **هارُوت و ماروت** په شان زه هم په ازميښت کښې اخته نه کړے شم.

**راوي** وائي چې: **رَسُولُ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم په ژړا شو او حضرتِ سيِّدُنا **جِبرئيل** (عَلَيْهِ السَّلَام) هم ژړل. دواړو حَضَراتو ژړل، آخِر آواز راغے: "**اے جِبرئيل** (عَلَيْهِ السَّلَام) **اے محمد** (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) **الله** پاک تاسو دواړه د خپلې نافرمانئ نه **محفوظه** کړي ئې." **سيِّدُنا جِبرئيل** (عَلَيْهِ السَّلَام) آسمانونو طرف والوَتلو. د **مدينے تاجدار**، رَسُولِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بهر ته تشريف راوړو. د بعضو اَنصارو صَحابهٔ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان په خوا تيريدلو چې هغوئي خَندل او لوبې ئې کولې. اوئې فرمائيل: "تاسو خاندئ او ستاسو شا ته دوزخ دے، که تاسو ته هغه خبرې معلومې وے کومې چې ما ته معلومې دي نو تاسو به لږ خندلے او زيات به مو ژړلے او تاسو به خوراک څښاک پريښودے وے او د غرونو طرف ته به وتلي وے او ښه په ډيرو مَشَقّتونو برداشت کولو به مو د اِلٰهي (عَزَّوَجَلَّ) عِبادت کولے." آواز راغے اے **محمد**! صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما بندګان مه مايوسه کوه، ما تاسو خوشخبري اوروَنکي جوړ کړي ليږلي ئې او تنګي کولو والا جوړ کړي مې نه ئې ليږلي. پس **رَسُولُ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: په سمه لار روان اوسئ او ميانه روي اِختيار کړئ. (اَلْمُعْجَمُ الْاَوسط لِلطّبَرانِی ج2ص78 حدیث 2583)

## افسوس! زمونږه زړه نه لړزيږي!

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! غور اوکړئ زمونږه خوږ خوږ آقا صلّی الله علیهِ واٰلهٖ وسلّم دي د معصُوم کيدو بلکه د سَيِّدُالْمَعْصُومِين کيدو باوجود او سَيِّدُنا جِبرئيل اَمِين (عليهِ السّلام) دي هم د معصوم کيدو او د معصومو فرښتو د سردار کيدو باوجود هم د دوزخ د ذِکر کيدو په وخت کښې د **الله** پاک د ويرې نه ژړا فرياد کوي. او زمونږه حال دا دے چې د ګناه د پاسه ګناه کوو خو د دوزخ د ويرَوونکې تذکرې اوريدو باوجود نه زمونږه زړه لړزيږی نه مو بدن رپيږي او نه مو سترګې لـمديږي. **افسوس!** د عذابِ دوزخ د خوفناکو خبرو اوريدو نه پس هم مونږه نه [په خپلو ګناهونو] پښيمانه يو نه پرې پريشانه يو، نه پرې شرمِنده يو او نه پرې افسوس کوو.

نَدامت سے گناہوں کا اِزالہ کچھ تو ہو جاتا　　ہمیں رونا بھی تو آتا نہیں ہائے ندامت سے

(وسائلِ بخشش ص ۲۳۸)

يعني که مونږ په ګناهونو څه پښيماني لرلے نو څه ګناهونه به مو معاف شوي وو خو افسوس مونږ ته خو د پښيمانئ ژړا هم نه راځي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د شپې په تنهائي کښې د آيتونو په اوريدلو وفات شو

زمونږ د بُزُرګانِ دين رحمۃُ اللهِ علیهِم به دا حالت وو چې د دوزخ په ذکر اوريدلو او يا ددوزخ د عذابونو په بيان مُشتَمِل قرآني آيتونو اوريدلو سره به بے هوشه کيدل بلکه د بعضو خو به روحونه اُووَتل. چنانچه **حَضرتِ** منصور بِن عمامه رحمۃُ اللهِ علیه فرمائي چې: د حج د سفر په دوران کښې د کوفې په يوه کوڅه کښې زما شپه وه. د شپې په توره تِياره کښې د څه ضرورت د پاره بهَر اُووَتلَم، د يو کور نه د رِقّت انګيز [ژړوونکو] **مُناجاتو** څه داسې آواز راغے: اے زما پروردګاره! ستا په عِزَّت او جلال

مې دې قَسَم وي! ما په خپلو ګناهونو کښې ستا د مُخالَفت اراده نه وه کړې، خو دومره ضرور ده چې د ګناه کولو په وخت کښې ستا نه بے خبره نه ووم، بس زما نه ګناه وشوه او زه ستا له طرفه راکړے شوي د پرده پوشۍ مُهلَت په ګناه باندې زړَوَر کړم او زما بدبختۍ په ګناه کښې زما مدد اوکړو او زه د خپلې نادانۍ په وجه [ستا] په نافرمانۍ کښې اخته شوم. اوس زه ستا په فَضل اُمِّید لرم چې ته به زما عُذر قبول کړې. که تا زما عُذر قبول نه کړو او په ما دې رحم اونکړو نو هائے زما د اُوګدې مودې د عذاب غم! چې کله هغه خاموشه شو نو ما د آته ويشتمې سيپارې د سُوْرَةُ التَّحْرِيْم شپږم آيتِ کريمه اولوستلو:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّ قُوْدُهَا النَّاسُ وَ الْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلٰٓىٕكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَاۤ اَمَرَهُمْ وَ يَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ۝۶

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: اے ايمان والؤ! خپل ځانونه او د خپل کور کسان د هغه وور نه بچ کړئ چې د هغې خشاک انسانان او کاڼي دي. په هغې سختې او کرّه فرښتې مُقررې دي، چې د **اللّٰه** د حکم نافرماني نه کوي او چې څه حکم ورته اوشي هُم هغه کوي.

(پ: 28، التحريم: 6)

د آيتِ کريمه لوستلو نه پس ما يوه تيزه چغه او د غورزيدلو آواز واوريدو او بيا خاموشي خوره شوه او د هيڅ قِسمَه حَرَکت آواز نه محسوسيدو. بيا زه د خپل کار پوره کولو نه پس بيرته خپل د اوسيدو ځائے ته راغلَم. بيا چې سحر هغه طرف ته لاړم نو خلق د تعزِيَّت [يعني دُعا] د پاره راجمع شوي وو او د ژړا آوازونه راتلَل، هلته مې يوه بوډۍ اُوليدله چې په ژړا ژړا ئې داسې وئيل چې: **اللّٰه** پاک دې زما د ځوئ قاتِل ته جزائے خير ورنکړي چې هغه زما ځوئ ته د عذابِ اِلٰهي آيتِ کريمه

تِلاوت کړو، او هغه برداشت نه کړے شو او د **الله** پاک د ویرې نه راپریوتو او وفات شو. حضرت منصور بِن عمامه رحمۃ اللہ علیه وائي چې: په دغه شپه ما یو کس په خوب کښې اولیدو، هغه ما ته وئیل چې: ''زه هغه یم چا چې ستاسو د خُلې نه د سُوْرَةُ التَّحْرِیْم د شپږم آیتِ کریمه تِلاوت اوریدلے وو او د خوفِ خدا په سَبَب ترینه ساه ختلې وه.'' ما ترینه تپوس اوکړو: مَافَعَلَ اللهُ بِك؟ [یعني] **الله** پاک ستا سره څه مُعامَله اوکړه؟ هغه جواب راکړو چې: **الله** پاک زما سره هُغه څه اوکړل څه ئې چې د شُهداءِ بَدَر سره کړي وو. ما ترینه تپوس اوکړو چې، هغه څنګه؟ هغه اُووئیل: هغه داسې چې **الله** پاک هغوئي د کافِرو په تُورو شهیدان کړي وو او زه ئې د خپل عِشق په تُوره [شهید کړم]. (بِتَغَیُّر مَوَاعظه حسنه ص 42، 43)

خدایا ترے خوف کا ہوں میں سائل — سدا دل رہے تیری الفت میں گھائل
گناہوں سے ہر آن ڈرتا رہوں میں — فقط نیک ہی کام کرتا رہوں میں
تُو کر در گزر مجھ کو ہر معصیت سے — نواز اے خدائے کریم مغفرت سے

خدایا ستا نه ستا خوف زه غواړم — ستا محبّت کښې زخمي زړه غواړم
د ګناهونو نه ستا ویره غواړم — فقط نیکي درنه زه ډیره غواړم
زما ګناهونه ته کړې معاف یا کریم — اوکړې زما بخښنه تهٔ یا رحِیم

اٰمِین بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د کور کسانو ته هم د نیکۍ دعوت ورکړئ

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو! تاسو اولیده چې: د خائفِینو (یعني د **الله** پاک د ویره لرونکو) هم څه ښکلے شان وي! کوم آیتِ کریمه چې هغه خوفِ خُدا لرونکي بنده اوریدلے وو او ساه ئې ختلې وه، په هغې کښې د خپل ځان سره سره د خپل

کور د کسانو هم د دوزخ د وور نه د بچ کولو حکم ورکړے شوے دے. هر يو کس له پکار دي چې پخپله نيکئ کوي، د ګناهونو نه ځان ساتي او د کور د کسانو هم د اِصلاح بندوبست کوي. حضرت عَلّامه قُرطُبی رحمۃُ اللہِ علیہ د حضرت سَيّدُنا اِلکيا رحمۃُ اللہِ علیہ قول نقل کوي چې: په مونږ فرض دي چې خپل اولاد او کور والؤ ته ديني تعليم ورکړو، ښې خبرې ورزده کړو او د هغه ادب او هُنر تعليم ورکړو چې د هغې نه بغير ګزاره نه وي. (تفسيرِ قرطبی ج9 ص148)

## ماشوم ته د ټولو نه اوَّل دين زده کړئ

**صَدرُ الشَّرِيعَه، بَدرُالطَّرِيقَه** حضرت عَلّامَه مَولانا مُفتِي **مُحَمَّد اَمجَد عَلِی اَعظَمِی** رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: د ټولو نه مخکښې خبره دا ده چې ماشومانو ته قرآنِ مجيد زده کړے شي او د دِين ضروري خبرې ورزده کړے شي، روژه، نمونځ، طهارت [يعني د پاکئ مسائل] او د اخستلو او خرڅَوَلو او د اُجرَت وغيره اغستلو، ورکولو او د نورو مُعامَلاتو مسائل چې د هغې هره ورځ حاجت پيښيږي او د لاعِلمئ په وجه د خلافِ شرع کارونو کولو په جُرم کښې اَخته کيږي د دې خبرو تعليم دې ورکړے شي. که دا محسوسه کړئ چې ماشوم د عِلم حاصلولو شوق لري او هوښيار هم دے نو د عِلمِ دِين د خِدمَت نه بل ښه کار نشته او که طاقت نه لري نو د صحيح عقيدو د تعليم او د ضروري مسائلو تعليم ورکولو نه پس ئې چې په کوم جائز کار کښې لګوئ [تاسو ته] اختيار دے. (بهارِشريعت ج2 ص256) لور ته هم د عقيدو او د نورو ضروري مسائلو تعليم ورکړئ او بيا ورته د يوې زنانه نه د جامو ګنډلو او نقش و نګار وغيره داسې کار زده کړئ چې اکثر د هغه کارونو زنانؤ ته ضرورت پيښيږي او د پخلي او نور د کور کارونه هغې ته په ښه طريقه د زده کولو کوشش اوکړئ ځکه چې په ښه طريقه د کور کارونه کوونکې زنانه چې څنګه ښه ژوند تيرولے شي هغسې بيکاره

زنانه نه شي تيرولے. (ايضاً ص257 ، رَدُّالمحتار ج5 ص279)

## اولاد ته د سخاوت او اِحسان تعليم ورکول واجِب دي

د **دعوتِ اسلامي** د مَکتَبَةُالْمَدِيْنَه د 1197 صفحو کتاب "**بهارِ شريعت جلد3**" صفحه 68 کښې دي چې: امام ابو منصور ماتُريدي رَحْمَةُاللهِ عَلَيه فرمائي: په مؤمِن باندې خپل اولاد ته د **جُود** (يعني سخاوَت) او **اِحسان** تعليم ورکول داسې واجب دي ځنګه چې پرې د توحيد او ايمان تعليم ورکول واجِب دي ځکه چې د **جُود** و **اِحسان** سره د دُنيا مَحَبَّت د زړه نه اُوځي او هم د دُنيا **مَحَبَّت** د هرې ګناه جرړه ده. (دُرِّمُختار ج8 ص568)

## بے اولاده ته چې کله اولاد نصيب شو

وائي چې: د يو مالدار کس اولاد نه وو، هغه د دې د پاره ډيرې طريقې اختيار کړې خو کامياب نه شو، چا ورته مشوره ورکړه چې **مَکے مُکرَّمې** ته لاړ شه او په مَسجِدُالحرام کښې د **مقامِ اِبراهيم** خوا ته دُعا اُوغواړه اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم ستاسو کار به اوشي. هغه هم دغسې اوکړل او **الله** پاک هغه ته د سپوږمۍ په شان ښکلے ځوئ ورکړو. هغه په ډيره زياته مينه او مَحَبّت د هغه پالنه اوکړه، د موره يو ځوئ سره به ئې د حد نه زياته مينه کوله خو صحيح تربِيَّت ئې ونکړے شو، په دې وجه هغه لوفر او فضول خرچه جوړ شو. پلار ئې هله په خود کښې راغلو چې اوبه د سره تيرې وې، بيا يې خپل وران کاري ځوئ ته پيسې ورکول بند کړل، په دې وجه هغه د خپل پلار خلاف شو او په کوم ځائے کښې ئې چې پلار د اولاد د پاره دُعا غوښتې وه او د هغه دُعا په نتيجه کښې (دا هلک) پيدا شوے وو، هغه نالائقه ځوئ هم هغه ځائے يعني **مَکے مُکرَّمې** ته لاړو او د **مقامِ اِبراهيم** خوا ته ئې د خپل پلار د مرګ دُعاګانې اوکړې، د پاره د دې چې د پلار د مرګ نه پس ورته د هغه مال او دولت په ميراث کښې پاتې شي.

# د اولاد غوښتونکو په خدمت کښې د نیکئ دعوت

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! کوم خلق چې د بے اولادئ ژړا کوي! د هغوئي د پاره په دې **واقعه** کښې ډیر لوئے عِبرَت دے، د **الله** پاک نه صرف د "اولاد" سوال نه بلکه د **عافیت** [یعني د خیر] **والا اولاد** سوال کول پکار دي ځکه چرې داسې اُونشي چې اولاد خو پیدا شي خو سخت بیمار یا معذوره وي یا په آپریشن پیدا شي یا د پیدا کیدو په وخت کښې د خپلې مور د مرګ وجه جوړ شي لکه څنګه چې د وړومبي ماشوم په پیدائِش کښې ډیرې زنانه وفات کیږي وغیره. کله داسې هم کیږي چې ماشوم لوئے شي نو بیلمانځه وي، مور او پلار تنګوي، د بد صُحبت په وجه په نشو کښې اخته شي، یا په معاشره کښې غل، ډاکو جوړ شي، یا د بدعقیده خلقو سره د ناستې ولاړې په وجه بدمذهبه شي، تر دې چې کله کله داسې هم کیږي چې مَعَاذَالله ګستاخِ رسول جوړ شي یا صَرِیح [یعني ښکاره] کفریه خبرې کوي یا د اسلام نه واوړي او **مُرتَد** شي. بهرحال د چا دُنیا ته "راتلل" د دُنیا او آخرت په ډیرو ډیرو او ډیرو زیاتو امتحانونو کښې اَخته کیدل دي. په دې باره کښې د **دعوتِ اسلامي** د **مَکتَبَةُ الْمَدِیْنَه** د 692 صفحو کتاب "***کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب***" صفحه 5 نه 6 پورې ورکړے شوے مضمون ډیر عبرتناک دے، هغه د تَصَرُّف سره عرض کووم: په حدیثِ مُبارَکه کښې د اُمَّت د زیات والي ترغیب ورکړے شوے دے او زمونږه خوږ **آقا مُصطفٰی جانِ رحمَت** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د قِیامَت په ورځ د دې اُمَّت په زیات شمیر خوشحالیږي او د نورو اُمَّتونو په مقابَله کښې به پرې فخر کوي، لِهٰذا د اولاد د حاصلولو په خواهش کښې د دُنیا او آخرت د ښیګړو د حاصلولو د پاره ښه ښه نِیَّتُونه کول پکار دي. نن چې په دُنیا کښې کوم بے اولاده ډیر خفه دي او د اولاد د پیدا کیدو د پاره ډیر ډیر کوششونه کوي، هغه دې ښه غور اوکړي چې که د هغه د اولاد حاصلولو اصل مقصد صرف د کور ښائسته کول او د دُنیا خوشحالي وي او په اولاد حاصلولو کښې ئې د آخرت د فائدې ښه ښه نیتونه نه وي، نو داسې ده لکه دا بے اولاده

کس چې په بے خیالئ کښې د "یو چا" په دُنیا کښې د پیدا کیدو او بیا د هغه په ډیر غټ امتحان کښې د اخته کیدو خواهِش کوي! زما په دې خبره هغه کس پوهیدے شي چې هغه پخپله د "بدې خاتمې ویره" لري. د یو خوفِ خُدا لرونکي بُزُرګ **حضرت** سَیِّدُنا فُضَیل بن عیاض رحمۃ اللہ علیہ د فرمان خلاصه ده: **زه د غټو نه غټ نیک بنده** [په قِسمَت] **باندې هم رشک نه کووم** [یعني د هغه قِسمَت د ځان د پاره نه غواړم] **ځکه چې هغه به د قیامت سختئ وِیني، زه په هغه رشک کووم چې هغه "هیڅ هم" نه وي.** (یعني هډو پیدا شوے نه وي) (حِلیَۃُ الاولیاء ج8 ص93 رقم 11470 مُلَخَّصاً)

**اَمِیرُالمُؤمِنین** حضرت سَیِّدُنا **فاروقِ اعظم** رضی اللہ عنہ **د ویرې دَ غَلَبې** په وخت کښې اُوفرمائیل: کاش! **چې زه د موره هډو پیدا شوے نه وے!** (اَلطَّبَقاتُ الکُبرٰی لِابنِ سعد ج3 ص274) **د الله پاک دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي.**

اٰمِین بِجاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

کاش! کہ میں دُنیا میں پیدا نہ ہُوا ہوتا　　قبر و حَشر کا ہر غم ختم ہو گیا ہوتا

آہ! کثرتِ عِصیاں ہائے خوفِ دوزخ کا　　کاش! اِس جہاں میں نہ بشر بنا ہوتا

آہ! سَلبِ ایماں کا خوف کھائے جاتا ہے

کاش! میری ماں نے ہی مجھ کو نہ جنا ہوتا　(وسائلِ بخشش ص۲۵۸،۲۵۶)

کاش! چې زه په دُنیا کښې نه وے پیدا شوے
د قبر او حشر غم به مې ټول وے ختم شوے
آه! ډیرې زیاتې نافرمانئ، هائے د دوزخ ویره
کاش! چې په دې جهان کښې زه بشر نه وے جوړ شوے
آه! د بدې خاتِمې، ویرې اوخوړمه زه
کاش! چې زه د موره نۀ وے پیدا شوے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

# د يو عالِم پلار عِبرت ناک انجام

دا صحيح ده چې د مور او پلار په حق کښې اولاد کله نعمت هم ثابتيږي خو کله داسې هم کيږي چې د مور او پلار د اولاد په صحيح اسلامي تربيت باندې د تَوَجُّه نه ورکولو په وجه اولاد د ډيرې غټې پريشانئ او زحمت باعِث هم جوړيږي، په دې خبره باندې د پوهه کيدو د پاره په حِليَةُالاولياء کښې ورکړے شوے دا حِکايت اولولئ. چنانچه حضرت سَيِّدُنا مالِک بِن دينار رَحْمَةُاللهِعَلَيه فرمائي: **منقول** دي چې په بني اسرائيلو کښې به يو **عالِم صاحِب** په کور کښې اجتِماع کوله او په هغې کښې به ئې بيان کولو، يوه ورځ د هغوئي ځلمي ځوئ يوې ښکلې جينئ ته په سترګه اشاره اوکړه، دا منظر هغه عالِم صاحِب اوليدو نو اوئې وئيل: "اے **ځويه صبر اوکړه.**" د دې وينا سره عالِم صاحِب د خپل تخت [يعني STAGE] نه پړمخ راغوزار شو تر دې چې د هغه د هډوکو بعضې جوړونه هُم مات شو، د هغه د ښځې حمل اوغورزيدو او د هغه ځامن په جنګ کښې مړه شول، **الله** پاک د هغه وخت نبي عَلَيهِالسَّلام ته وحي اُوفرمائيله چې فُلانکي عالِم ته خبر ورکړه چې زه به د هغه په نسل کښې کله هم **صِدِّيق** پيدا نه کړم، آيا زما د پاره صرف دومره ناراضه کيدل پکار وو چې هغه ځوئ ته [صرف دا] اُووئيل چې: "اے **ځويه صبر اوکړه.**" (حِليَةُالاولياء ج2 ص422 رقم2823) يعني مطلب دا دے چې په خپل ځوئ ئې سختي ولې ونکړه او هغه ئې د دې بد حرکت نه په صحيح طريقه وَلې منع نه کړو؟ په دې روايت کښې د "صِدِّيق" ذِکر دے، د اوليائے کرامو د ټولو نه افضل قِسَم ته صِدِّيق وائي. اَلْحَمْدُلِلّٰه زمونږه **غوثِ اعظَم** رَحْمَةُاللهِعَلَيه صِدِّيق وو.

# د پينسِل د غلا نه د پانسئ د زندئ پورې

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د اولاد داسې تربيت کول پکار دي چې هغوئي د وړوکوالي نه د ښو خبرو سره مينه کوي او بدې خبرې بدې ګڼي، که داسې ونکړے شو نو کيدے شي چې ماشوم وران شي او چې بيا لوئے شي نو ډير غلط کار اوکړي لکه څنګه چې

وائي چې **یو خطرناک ډاکو** ګرفتار کړے شو او مقدمه پرې وچلیده او د ډاکې وهلو او د قتل او بربادئ **مختلف** جرمونه پرې ثابِت شو او د هغې په وجه ورته د **پانسئ سزا** واورَوَلے شوه، کله چې د پانسئ وخت نزدې راغے نو د هغه نه د هغه د آخِري ارمان پوښتنه اوکړے شوه، هغه د خپلې مور سره د ملاقات خواهش بیان کړو، چنانچه د هغه مور راوستے شوه، **چې څنګه ئې خپله مور اُولیدله، نو یو دَم ئې پرې حمله اوکړه او وهل ټکول ئې شروع کړل**، په ډیوټئ موجودې عملے په څه طریقه زخمي مور د بے رَحمه ځوئ نه خلاصه کړه، د هغه ډاکو نه د دې ظالِمَانه حرکت تپوس اوکړے شو نو هغه اُووئیل چې: زه د پانسئ تختې ته هم دې مور رارَسَوَلے یم، در اصل قِصّه داسې ده چې په وړوکوالي کښې د ناپوهتیا په دَوَر کښې ما یو ځل د سکول د یو طالِبِ عِلم نه **پینسل غلا** کړو، کور ته مې راوړو او مور ته مې اُوښودو، نو پکار خو دا وه چې مور ما ته د دې غلط کار نه نفرت راکړے وے خو دا صرف مُسکئ شوه او ما ته ئې هیڅ هُم اُونه وئیل، هغه وخت زه څه پوهیدم! ما وئیل ګني چې ما څه ډیره غټه کارنامه کړې ده! ځکه زما حوصله زیاته شوه او ما نورې پینسلې او کاپیانې غلا کول شروع کړل، چې کله غټ شوم نو د **غلا** عادت مې نښه پوخ شوے وو او زړه مې نښه غټ شوے وو لِهٰذا ما **ډاکې وهل** شروع کړل، د دې لوټ مار په دوران کښې زما د لاسه بعضې قتلونه هم اوشو او زه ډیر "**خطرناک ډاکو**" جوړ شوم. آخر پولیس ګرفتار کړم او نن به لږ ساعت پس د خپلې نالائقې مور د غلط ترېیَّت په وجه زما په مرئ کښې د پانسئ رسئ واچولے شي.

## د آخِرت د سزا په مُقابَله کښې د دُنیا سزا هیڅ هم نه ده

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! تاسو اولیده! د ماشوم والي غلط ترېیَّت څه اوکړل! کیدے شي چې څوک دا سوچ کوي چې مونږه د خپل اولاد نه څه غل خو نه جوړوو! ټیک ده ټول مور او پلار "د غلا عامه طریقه" یعني باقاعده د نورو مال د غلا کولو تعلیم نه ورکوي خو ګناه صرف غلا خو نه ده، نور هم داسې ډیر ګناهونه دي چې هغه مور او پلار خپل اولاد

ته زده کوي مَثَلاً په دروغو او په دوکه او په کم ناپ تول خپل مال خرخول وغيره. نو آيا د سُود لين دَين کول، خپل خراب مال د نورو په نظر کښې د ښه ښکاره کولو طريقې او [په دوکه] د هغې د خرخولو طريقې زده کول يا ځوئ د ګيرې پريښودو او لور د شرعي پرده کولو وغيره نه منع کول ګناه نه ده؟ آيا داسې کوونکي [خلق] د معاشرے" **تهذيب يافته غله او په سپينه جامه کښې ډاکوان**" نه دي؟ آيا په دُنيا کښې عِزَّت مند ښکاريدو والا دا خلق به ګني په آخِرَت کښې هم د عِزَّت حاصليدو اُمِّيد لري! قَسَم په خدائے چې! هٰغه ډاکو ته د پانسو کوم دُنياوي تکليف ورسيدو او د هغه مور ته چې هغه د لږ ساعت تکليف ورسيدو نو د دې [دُنياوي تکليف] په مُقابله کښې به اولاد ته د ګناهونو د تربيت ورکولو کوم عذاب چې [ مور او پلار ته] ورکولے کيږي نو د هغه عذاب کروړمه حصَّه عذاب به هُم [د دې دُنياوي تکليف نه] کروړونه همره زيات سخت او تکليف ورکوونکے وي. اَلاَمانوَالْحَفِيظ

## د پلار د سيزلو د پاره لرګي راوړم

زمونږه په موجوده معاشره کښې پيښه شوې يوه عجيبه او افسوسناکه واقعه چې واورئ نو حيران به پاتې شئ چې د مور او پلار له طرفه د سُنَّتو ډک تربيت نه کولو په صورت کښې اولاد څنګه څنګه عجيبه کارنامے کوي! چنانچه د حيدرآباد ښار (پاکستان) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې په 2001ء کښې زمونږ په ځائے کښې يو غټ مالدار سړے مړ شو. خلق د هغه په عاليشانه بنګله کښې راجمع شوي وو، د مرحوم د 19 کالو ځوئ چې هغه په يو ماډرن سکول کښې تعليم حاصلولو، هغه چرته د تلو د پاره يو دم په ډيره تادئ سره پاڅيدو، چا ترينه د تادئ کولو تپوس اوکړو نو هغه اُووئيل چې: "زما پلار به زما سره ډيره مينه کوله، ما دا سوچ اوکړو چې په آخري وخت کښې په خپلو لاسو د هغه څه خِدمت اوکړم، نو زه ځم او د هغوئي د مړي سوزَوَلو د پاره ښځيله لرګي راوړم." خلقو چې دا خبره واوريدله نو ډير

زيات حيران شُو ځکه چې د ده پلار خو مسلمان وو نو بيا ولې دا د هغه د سوزَوَلو د پاره په لرګو پسې ځي! خلقو چې سوچ اوکړو نو په دې نتيجه ورسيدل چې دې نادان به د غيرمُسلمو په فِلمونو کښې د مړو د سوزَوَلو نظارې ليدلې وي او د ده په دِماغو کښې به هم دا خبره پرَته وي چې هر څوک مړ شي نو سوزَوي به ئې، دا د فلمونو شوقين د دې نه هم نه دے خبر چې مُسلمانان مړي سوَزَوي نه بلکه ښخوي ئې. بهرحال د هغه مرحوم پلار ښخ کړے شو. چې د فلمونو د دې خوفناک غلط اثر دا واقعه د هغه علاقې خلقو ته معلومه شوه نو هغوئي ته عِبرت حاصل شو، ډير ځلمي په جوش کښې راغلل او"کيبلې" ئې کټ کړې. د څه وخته پورې خو هم دا حالت وو خو ورو ورو نفس او شيطان بيا غالِب شو او کيبلې ئې بيا اُولګولـې!

سرورِ دیں! لیجے اپنے ناتوانوں کی خبر
نفس و شیطاں سیِّدا کب تک دباتے جائیں گے (حدائقِ بخشش شريف)

شرحِ کلامِ رَضا: د اعلٰى حضرت رحمۃ اللہ علیہ د دې شعر معنٰى ده: يا رسولَ الله صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم! مونږه کمزورې غلامان د ګناهونو نه بچ کړئ، اے آقا (صلّی اللہ علیہ والہ وسلّم)! مونږ به د ګناهونو د مرض نه آخِر کله شِفاياب کيږو! آخِر دا نفس او شيطان به تر څو پورې مونږه په ګناهونو کښې اخته کوي! (د نفس او شيطان د شر نه د بچ کيدو بهترينه طريقه دا ده چې د يو پيرِ کامِل مُريد جوړ شئ ولې چې په هغه جامِع شرائط پير باندې د نفس او شيطان وار نه شي چليدے نو د هغې په بَرَکت به د هغوئي د مُريدانو هم د حفاظت وسيله جوړه شي. يو سرائيکي شاعر څه ښه وئيلي دي)

پیر دے ہتھ وِچ ہتھ کوں ڈے کر
نفس دی بانہہ مَروڑ تاں توں ہِک تِھیویں

(يعني خپل لاس د يو پيرِ کامِل په لاس کښې ورکړه او [د هغوئي په زور] د نفس مړوَند تاؤ کړه چې تا ته د فَنا مقام حاصِل شي)

# د ايصالِ ثواب انتِظار

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو! په دې عجيبه واقعه کښې عِبرت او ډير عِبرت دے. اګرچې نن تاسو ژوندي ئې خو صبا به يقيناً مړه کيږئ، که تاسو خپل ځوئ ته صِرف او صِرف دُنياوي تعليم ورکړو، دولت ګټل هم ورزده کړل، ډيرې سندرې هم ورته واورولې، قِسم قِسم فِلمونه مو پرې وکتل او ديني تعليم مو پرې اُونه وئيلو او نه مو ورزده کړو، د جُمات لار مو ورته اُو نه ښودله، د هغه په زړه کښې مو د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مَحَبَّت شمع روښانه نه کړه، د مَکي مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مَحَبَّت نښنه خوږه خوږه مُبارکه ګيره مو پرې پرې نه ښوده بلکه ښه فيشني مو ترينه جوړ کړو نو ياد ساتئ! نه به هغه ستاسو د جنازې نمونځ اوکړے شي او نه به هغه ته ستاسو د پاره د اِيصالِ ثواب کولو طريقه ورځي! حالانکه د مرګ نه پس به تاسو ته د اِيصالِ ثواب ډير زيات حاجت وي. د سرکارِ نامدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوشبوداره ارشادِ مُبارک دے: د مړي حال په قبر کښې د ډوبيدونکي انسان په شان دے څکه چې هغه ډير زيات اِنتظار کوي چې د پلار يا مور يا ورور يا د يو دوست دُعا هغه ته را ورسي او چې کله د چا دُعا هغه ته ورسي نو د هغه په نِزد هغه د دُنياوَمَافِيها (يعني دُنيا او څه چې په دې کښې دي د هغې) نه غوره وي. **الله** پاک قبروالؤ ته د هغوئي د ژوندو مُتَعَلِّقينو [يعني تَعَلُّق لرونکو] له طرفه هَدِيَّه شوے ثواب د غرونو په شان ورکوي، د ژوندو هَدِيَّه (يعني تُحفه) د مړو د پاره د "بخښنې دُعا غوښتل" دي.

(شُعَبُ الايمان ج6 ص203 حديث7905)

ہر بھلے کی بھلائی کا صدقہ

اس بُرے کو بھی کر بھلا یارب! (ذوقِ نعت ص۶۰)

د هر ولي د بزرګئ په خاطِر — دا بد هم نيک کړې يا **الله** يا ربّ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د راتلونکې اونۍ مجله





978-969-722-640-5
01082483



فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net